# زېړی

**پنځلس ورځنۍ جریده**

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ▣ ۵ –۸ مه ګڼه ▣ دریېمه دوره ▣ پرله پسې ۲۲۹ - ۲۳۲ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د چنګاښ (سرطان) ۳۱ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د شوال المکرم ۵مه ▣ ۲۰۱۵ زېږدیز کال د جولای ۲۲ مه


## د څېړنوال حضرت محمد ویاړ په یاد

**چـــې رانـــه لاړې ارمـــان راغـــی**
**ولـــې مـــې ټینـــګ پـــه غېږ کـــې نـــه نیـــوې مَینـــه**


✎ څېړنپوه علي محمد منګل


د درانه استاد حضرت محمد ویاړ، د هجران له ډېره غمه، حیران پاتې شوم، خپل فکر او تخیل خدایږو، چې د ده په جدایۍ هم راشخه جلا شول، خالي ستړه او بدن پاتې شوم، نه پوهېږم، په کومه ماته ګوډه ژبه، چې لرم یې، په کومو کلمو، الفاظو، عباراتو، په څه ډول جملو او په کومو ادبیاتو، نثر، نظم، ادبي ټوټه، په کوم بلاغت او فصاحت سره د دغه درانه، آرام، د نرم او ښه خوی، نېکو اخلاقو او د نېک کردار، ښې راشې درشې، ناستې او ولاړې، پښتني او انساني مینې یادونه وکړو او د فرهنګ د غوړېدا په لاره کې د دغه حقدار حق څنګه ادا کړو.

اروابناد ویاړ په موږ دا حق لري، چې د ده علمي –ادبي هلوځلو ته د درنښت په سترګه وګورو.

خو په خواشینۍ به دومره ووایم، چې اروابناد استاد ویاړ، زموږ د فولکلور څېړنې، ولسي پوهې او ملي ادبیاتو راسپړنه کې یو پوخ او ستر فرهنګي شخصیت و، دی زموږ د مینې د دمې او تکیې لوی دمه ځای او تکیه و، په شفاهي ادبیاتو او څېړنو کې د سترګو د ور اوښتلو یو استاد و.

بې شکه چې ښه څېړونکی او پوخ مجرب محقق او عالم و، د ده مړینه ډېره لویه تشه او ضایعه ده...

ده به ډېره لږه لیکنه او څېړنه کوله، خو په ادبي او علمي پاخه تول به تللې، پوره وه، په روانه او ساده ژبه به یې بې مسوولیته لیکنه نه کوله، لیکنه به یې تل ډېره غوره او ارزښتمنه وه، چې په لیکنه او څېړنه کې به یې نوښت او ارزښت دواړه په ښه رنګ ځلېدلي و. دی زموږ د فولکلور او فرهنګ د غنامندۍ په کار کې نه ستړی کېدونکی استاد و، خو په خواشینۍ سره به بیا دا ووایم، چې ناروغه و، رنځورتیا او سختې بیمارۍ خپلو څېړنو ته نه پرېښود، په رنځور حال یې بیا هم په ډېره مینه د ولسي ادب په راغوړېدو کې ډېرې هلې ځلې کړې، چې درندې قلمي پانګې د ولسي پوهې په څېړنه او



فولکلورپوهنه کې ترې په میراث راپاتې دي، هیله من یم، چې کوم وخت به د چاپ په ګاڼه ښکلې شي، د ژبو او ادبیاتو مرکز به په دغه اړه هلې ځلې ترسره کړي...

دی په ژوندانه کې د مینې او محبت سړی و، سخته خبره او کلام یې په پسته ژبه او خوله کې نه لیدل کېدل، تل به یې د خبرو او وینا په وخت کې د ډېرې مینې او درنښت نرمه موسکا او خوږه خندا په شونډو، لکه ګل خوره وه. ده د درویش او فقیر په جامه کې سرلوړی ژوند کاوه، ځکه دوستانو او استادانو ورته پوره اخلاص درلود. دی د ډېر نرم زړه څښتن و، د سخا او ورکړې لاس یې درلود...

دی په خپل وطن، د وطن په آبادۍ، ښېرازۍ، د افغان ولس په آرامۍ، سوکالۍ، سوله، امن، ملي یووالي، د خپلې مورنۍ ژبې پښتو او د افغان ولس د نورو ژبو په پرمختیا ډېر مین و. د همدې ملي او هېوادني احساس له کبله یې د هرچا په زړه کې مینې ځای درلود او احترام به یې کاوه، دا ځکه چې د ده نېک او ښه عمل د ده د درندې لارې مل و، خو په ډېر ارمان او افسوس سره به ووایم، چې ترخه او خوشې مرګي دا فرهنګي شخصیت، استاد او افغان له موږ څخه د تل له پاره جدا کړ، اوس دی زموږ په منځ کې جسماً نشته، خو د ده یاد به تلپاتې او جاوېدان وي، په خپله نیمګړې پوهه، چې نه پوهېږم، دومره ویلی شم:

د ده د انساني مینې نوم، د ټولو استادانو په منځ کې ډېر روڼ و، چې په درنښت به یادېده. دی ډېر مهربان او د مرحمت څښتن و، په خپله مورنۍ ژبه پښتو او خپل وطن ډېر مین و. ده د هېچا په برخه کې مخامخ او په غیاب کې سخته خبره نه کوله، ځکه هرچا ته ګران او عزیز و. ده تل له هرچا سره په درنښت مینه کوله، ځکه په نېک نوم سره یادېده او له مرګ وروسته به هم په درانه او نېک نوم یادېږي، دی د پاک زړه او پاکې ژبې څښتن و.

دی د پت او درنښت څښتن و، د هرچا درنښت یې کاوه، په ښه خوی ټول له ده راضي او خوشحال وو، د نېک عمل او ښه کردار له امله یې د ټولو استادانو، دوستانو او عزیزانو زړونه


⇦ دریېم مخ

ادبي بحثونه :

# د ادبپوهنې تاریخ او د ادب تیوري

● څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

د ادبپوهنې تـاریخ، د ادبپـوهنې پـه فرعـي څـانګو کـې شمېر دی او لکـه چـې جوتـه ده، د ادبپوهنې تاریخ موږ په مجموع کې د ادبپوهنې د هـرې اصـلي څـانګې لـه تـاریخي ودې او پرمختیایي بهیر سره آشنا کوي.

دمخه مو یادونه کړې، چې ادبپوهنه دا لاندې درې اساسي او بنسټیزې څانګې لري :

١ -ادبي تیوري
٢ -ادبي کره کتنه
٣ -ادبي تاریخ

نـو د ادبپـوهنې تـاریخ، مـوږ تـه د درې واړو څـانګو د ودې او پرمختیـا د تـاریخي بهیـر څرنګوالی په سیستماتیک ډول څېړي.

د ادبپوهنې په تاریخ کې موږ په نړیواله کچه د ادبي نظریو یا ادبي تیوري د پیدایښت او پایښـت د مسـئلې د تـاریخي شـالید او پرمختیـایي بهیـر څرنګـوالی مطالعـه کـوو. همدارنګه ادبي کره کتنه (نقد) کې لـه تـاریخي شـالید څخـه خبرېږو او د کره کتنې د بېلابېلو ښوونځیو د پیدایښت، ودې او پرمختیا بهیر لـومړی پـه نړیـوال ادب او بیـا د خپلـې ژبـې پـه ادبیاتو کـې مطالعـه کـوو. د ادبـي تـاریخ یـا د ادبیـاتو تـاریخ د لیکنـې پـه څرنګـوالي او پـه نړیواله کچه په ادبیاتو یې د ادبي تاریخ لیکنې پیلامه او ادامه هم موږ ته د ادبپوهنې تاریخ تشریح کوي. د ادبي تاریخ لیکنې له بېلابېلو مېتودونو او د هغو لـه تـاریخي شالید سره مو آشنا کوي.

په عامه توګه د ادبپوهنې دغه فرعي څانګه د ادبپـوهنې د پرمختیـا او پراختیـا تـاریخي پړاوونـه ثبتـوي او هغـه مـواد راټـول او منسـجموي، چـې د ادبـي تیـورۍ د تـاریخي پړاوونو، د ادبپـوهنې د تـاریخي پراختیـا او د ادبي کره کتنې په پوړیو کې ورسره څېړونکي آشنا کېږي. (١)

دا چې د دې درې اصلي څانګو او په هغو پورې اړونـدو مسـایلو څېړنـه او پېژندنـه، زمـوږ د دې څېړنـې اصـلي موضـوع ده، نـو ځکـه مـوږ د ادبپوهنې د تاریخ په اړه، په همدې لنډ او ځغلند بحث بسنه کوو او د ادبیاتو تیوري تشریح کوو.

**ادبي تیوري څه ته وایي؟**

"ادبـي تیـوري" لـه "ادبـي" او "تیـوري" دوو توکو څخه جوړه کلمـه یـا اصطلاح ده، چې د "ادبي" لغوي معنا "په ادب پورې مربوط" یا د "ادب په تول پوره" ده او د تیوري معنا "نظري اصـول، نظـري پوهـه یـا د نظریـاتو ټولګـه او مجموعـه" ده، چـې پـه دې ترتیـب د "ادبـي تیوري" معنا د ادب په اړه نظریې او کلي اصول کېږي.

پـه اصـطلاحي توګـه د "ادبـي تیـوري" د پېژندنې له پاره ادبپوهانو یو شمېر توضیحي او تشریحي څرګندونې کړې، چې ډېر سره ورتـه ټکي لري، دلته یې ځینې را اخلو :

کاندید اکاډیمسین محمد صدیق روهي یې داسې راپېژني :

"ادبي تیوري هغه پوهنه ده، چې د ادبیاتو پر ماهیت، مبدا او غایه، ارزښت، رسالت او انکشاف باندې بحث کوي. "(٢)

دوکتور اسدالله حبیب یې د پېژندنې په اړه لیکي :

"د ادبیاتو تیوري د ادبي پدیدو یا آثارو د ټولنیز ماهیت، د تخلیقي ادبیاتو د ځانګړنو د پرمختیـا د قانونمنـدیو او ټـولنیز نقـش مطالعه کوي او د ادبي آثارو د ارزښت موندنې د څېړنې له پاره یې عام اصول ټاکي. "(٣)

د (ادب تیوری اساسونه) اثر لیکوال وایي :

"د ادب تیوري د ادبپوهنې یوه ډېره مهمه څانګه ده، چې د هنرمند له خوا د ژوند د ترسیم او د هغـه د درک، د ټـولنې پـه ذهنـي وده او انکشـاف کـې د بـدیعي آثـارو د ارزښـت معلومولو، د بدیعي آثارو د انواعو، د هغو د افـادو د لارو، د لیکوالـو د سبکونو، ادبـي مکتبونـو او داسـې نـورو تحقیـق او څېړنـه کوي. "(۴)

په (فرهنګنامه ادبی فارسی) دویم ټوک کې داسې را پېژندل شوې ده :

درېیم مخ ⇦

# پښتو نثر

## (تعریف او ډولونه یې)

◘ څېړندوی سید نظیم سیدي

نثر په اصل کې عربي کلمه ده، چې معنا یـې شـیندل (تیتـول) او خـواره کـول دي او پـه اصطلاح کې هغې وینا یا لیکنې تـه نثر وایـي، چې وزن او قافیه ونه لري (١)؛ خو اجمل ښکلی، چـې د پوهنتـون یـو ځـوان استاد دی، پـه دې تعریف کـې یـو څه ستونزې ویني او وایـي: «د روان او عام فهمه لیک پـه لړ کې، چې د لیک کوم توکی په استعمال را وستی شي، هغه نثر دی (٢)».

نوموړی ځکـه پـر پورتـه پېژند نیوکه لـري، چـې هغـه ورتـه زوړ او لـه نیمګړتیـاوو ډک ښکاري. دی وایـي، کـه چېرې پـه کومـه نثـري لیکنه کې قافیه نه وي او وزن وي، ایا بیا هم نثر دی؟، په داسې حال کې، چې وزن لرونکی کلام نـن سبا د آزاد نظـم یـا شعر پـه نامـه یـادېږي، همدارنګه دی زیاتوي، ځینې نثرونه داسې دي، چې په جملو کې یې د قافیې التزام وي او د نوې زمانې د آزاد نظم په څېر د وزن خیال هم ساتلای شي، خو که پورتـه تعریف ورتـه د کاڼي کرښه وګرځوو، نو بیا یې باید د نثر پـه چوکاټ کې مطالعه نه کړو.

نوموړی د خپلې خبرې د وضاحت له پاره ډېر ښه دلیل لري او وایـي: پـه نظم او نثر کې څرګند توپیر دا دی، چې په نظم کې یو قسم تال یا ریتم وي، یعنـې کـوم وخت چـې د منظـوم کـلام د یـوې جملې یا مسرې تجزیه یا تقطیع وکړای شي، نو د لفظونو د سېلابونو په ویلو کې چې کـوم تـوازن، نظم او ضبط یا ترکیب او بندوبست وي، هغه پـه نثر کـې نـه وي او دا خبره د دې لامل کېږي، چې وایـو: نثـر تـر څه حده د نظم ضد وي؛ خو کلي حکم نه کوي او نه یـې بشپړ ضد بولي، پـه داسـې حال کې، چې موږ نن سبا نظم د نثر مخالف او نثـر د نظم مخالف بولو؛ خو کـه باریکیو تـه یـې ځېرنـه وکـړو، نـو بیـا د استاد ښکلي خبره مـوزړه تـه لـوېږي. پـه دې معنـا ، همدغـه هنري والـی او زړه راښکون یې دی، چې نثر یې هنري کړی او له نورو نثرونو یې جلا کړی دی.

مـوږ پورتـه هم دا خبره یـاده کـړه، چـې ځینـې نثرونـه داسـې وي، چـې لوسـتونکی یـا اورېدونکی نه شي قانع کولای، خو لیکوال یـې د قناعت له پاره له احساس، درک او عاطفې کار اخلي او دغه عاطفه ډېر ځله هوښیار او حوصله من خلک هم پرېکړې کولو او احساساتي کېدلو ته اړباسي، چې دا د هنري نثر او ادیب لوی کمال دی؛ نو که د دې خبرې منلو ته چمتو یـو، بیـا نـو پورته تعریف کې باید څه زیاتونې او کمونې وکړو او نثر یـوازې لـه وزن او قـافیې څخـه آزاده وینـا ونـه بولـو، بلکـې احساسـي، عـاطفي او تـر ټولـو مهمـه خبره مخیله یـې وبولـو؛ خـو پـه دې پېژنـد کـې بایـد دا تېروتنـه ونـه کـړو، چـې دا

درېیم مخ ⇦

# د حمزه بابا په شاعرۍ کې د سترګو مقام

◘ څېړنوال محمد نبي صلاحي

پوهان پـه دې نظر دي، چې مینه ژوند دی. ماشومان پـه مینه روزل کېږي او مینه د انسـان لومړنی حق دی. رحمن بابا وایي:

دا جهـان دی خـدای لـه عشـقه پیـدا کـړی
د جمـــلهوو مخلـوقـــاتو پـــلار دی دا

حمزه شینواری چې پـه اوسني وخت کې د پښتو غزل بابا او د غزل پلار په لقبونو سره یاد او ویاړل شوی دی، پـه فطري توګه شاعر دی. زموږ دغه نوښتګر شاعر د خپـل صوفیانه خوی او طبیعـت لـه املـه، خپلـه عقیـده داسـې څرګندوي :

د حقـــیقت اظهـار صفـت د هـر انـدام دی
بلـه منشـا خـو د غـزل پـه اشاعت کـې نـه وي

خبره دا ده چې، که موږ د حمزه بابا شاعري پـه غور سره وګورو، نو ژر به ووینو، چې که زړه د ده د غزلونو په باغچه کې د ښار ښه لري، نو د دغـه ښـار د دروازې دوې پلـې، غبرګـې پښـتنې سترګې دي. کـه څوک وغـواړي چې د استاد حمزه له نظره د ښایست معیار او د پښتون عشق مقام معلوم کړي، نو بایـد چې د پښتنو سترګو په باب یې، د هغه له خیاله پیل کړي او دا پـه دې برخه کې، د تورې او قلم لـه نامتو اتل خوشحال خـان خټک نـه را وروسته، دویـم لـوی پښـتون شاعر دی، چې د پښتنو سترګو د ښکلا راز تـه یـې ډېر پـام شوی دی. خوشحال خان خټک وایي :

چـې د اوسپـــنې زمـــرې تـــرې پـــه زلفـو
اوس یـــې ســـترګې زوروړې نـــه دي څـــه دي

د پښتو غزل شهنشاه غني خان غني بیـا ، د خپل جانان په سترګو کې یو نوی عاطفي جهان ګوري او څه ښه وایي :

سترګو د جانـان کـې زمـا ښکلي جهانونه دي
وا دې خـــله دنیـا زه وړی سـتا د دنیـا نـه یمـه

ما د سترګو پـه برخه کـې، د حمزه بابا ګڼ شمېر غزلیز بیتونه وکتل او دې نتیجې تـه ورسـېدم، چـې د هغـه د غـزل لمـن، د پښـتنو سترګو له اداګانو نه ډکه ده. دغه غزلبول بابا ، د پښـتنو سـترګو دومـره ښـکلی بیـا ن او تفسیر کړی دی، چـې هیڅ مـې تنده نـه پـرې ماتېږي. د ده غـزل، لکـه د شاتو کـان داسـې دی، چـې پـه غېږه کـې بې شمېره او قیمتـي خوندونه لري.

خبره دا ده، چې د انسان د بدن هر اندام ډېر ښکلی، مګر سترګې خو بیا سترګې دي. نه یـوازې انسـان پـرې د خپلـې معشـوقې دیـدن کولی شي، بلکې له هغې سره پـه سترګو کـې خبرې کولی شي. معنا دا چې یو انسان د بل

درېیم مخ ⇦

چهارشنبه ▣ ۵ –۸ مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۲۹ - ۲۳۲ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د چنګاښ (سرطان) ۳۱ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د شوال المکرم ۵ مه ▣ ۲۰۱۵ زېږدیز کال د جولای ۲۲ مه ▣ ۲ مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لورووونکي الله په نامه

## سرلیکنه

# پښتو معاصر ادبیات

د پښتو ادب تاریخ په درېیو دورو؛ لرغوني ادبي دورې، منځنۍ ادبي دورې او معاصرې ادبي دورې باندې وېشل شوی دی.

د ځینو ادبپوهانو په اند، د پښتو د ادبي تاریخ اوسنۍ دوره د شلمې پېړۍ له دوهمې لسیزې څخه پیلېږي؛ په پښتونخوا کې د ۱۹۱۰ زېږدیز کال په شاوخوا کې د "افغان" جریدې او افغانستان کې د "سراج الاخبار" د دوهم ځل (۱۹۱۱ زېږدیز) په خپرېدو سره د پښتو معاصر ادب بنسټ ایښودل شوی دی.

د پښتونخوا معاصر ادب په دوو پړاوونو وېشل شوی، چې لومړی پړاو د شلمې پېړۍ له لومړیو کلونو څخه پیل او تر ۱۹۴۷ زېږدیز کال پورې یې دوام کړی؛ دوهم پړاو یې له همدې کال راپدېخوا تر نن پورې تړاکل شوی دی. په افغانستان کې بیا ځینو څېړونکو د پښتو معاصر ادب په درېیو پړاوونو (روښانتیا، ویښتیا او اوښتون) وېشلی دی. له دې وراخوا دا چې له تېرو دوو – درېیو لسیزو راپدېخوا د افغانستان په پښتو معاصر ادب کې د نوي بدلون څه نښې نښانې تر سترګو کېږي، نو په دې برخه کې ښاغلو پوهانو ځینې نوې نظریې هم وړاندې کړي، چا د څلورم پړاو (سمون یا فکري بدلون) یادونه کړې، چا د یوې نوې څلورمې ادبي دورې وړاندیز کړی دی، خو هیله ده چې ادبپوهان او څېړونکي په دې برخه کې یوې ګډې فیصلې ته ورسېږي.

په هر حال، معاصره دوره د تېرې (منځنۍ) دورې له ادبیاتو سره د بېلې، منځپانګې او نویو ژانرونو له پلوه څرګند توپیر لري. په دې دوره کې نوي فکر او ټولنیزو تمایلاتو، لکه هېوادپالنې، وګړپالنې او ولسواکۍ... انعکاس موندلی او هم د بڼې له مخې په کې نوي ادبي

# شپېلۍ

لنډه کیسه

▣ څېړنیاره سمیله احمدزۍ

د لمر وړانګو په خپل ځواک سره، د دې ښکلي او ښېرازه دښتې هوا ښه ګرمه کړې ده او تودې وړانګې یې هرې خوا ته خورې ورې دي، دا ښکلې دښته په دنګو، دنګو ونو او ښکلو راټوکېدلو ډول ډول ګلانو آباده شوې ده، چې د دې طبیعت ننداره، انسان له لرې نه د لوی څښتن په قدرتونو کې ډوبوي او د دې دښتې په چوپتیا کې، د لوی سیند څپې د شرهار ښکلې نغمې غږوي. د بېلابېلو مرغانو غږونه د ونو او ګلانو په ښاخونو کې د آزادۍ او پسرلي زېری ورکوي.

د دښتې هر لوری، سړی ځانته رابولي، چې د زړه غم، د اوبو د شرهار په څېر او د مرغانو د آوازونو په شان ښه په جګه غاړه ووایي او د زماني لګول شوی مهر په خوله مات کړي، د دې دښتې په یوه څنډه کې، یو ښکلی هلک، چې شنه کالي یې اغوستي دي، یو اوږد لرګی یې په لاس او ملا یې په یوه سرې لویې غوټې تړلې ده، د رمې شاته روان دی او یوه رمه د ده تر فرمان لاندې روانه ده، د رمې د کنټرول له پاره له خولې ډول ډول غږونه راباسي.

د لمر وړانګې هم د ده په وریښمین مخ، د خولو لیکې رواني کړې دي، دېخوا هاغه خوا یې ښه رمه وپووله او په نس یې ښه مړه کړه، نور نو د ده په پښو کې هم د تللو توان نه دی پاتې او خدای شته، ښه ستړی شوی او داسې تږی شوی دی، چې هر لوری یې د سیند یخې اوبه لیدلې. نور یې نو رمه د سیند تر غاړه هاغې خوا ته، په شنه ځای کې راټوله کړه او خپل سر یې د سیند په سړو اوبو کې، چې ښکلې تیرېږي یې، لکه یاقوت او مرجان په کې ځلېدلې او شاوخوا یې شنې ورشوګانې او سندریزه فضا خوره شوې وه، ورکښته کړ او په یخو او خوږو اوبو یې ښه خپله تنده ماته کړه، بیا یې مخ او لاس په دې اوبو تازه کړل او د شکر په ویلو سره یې سر د سیند له اوبو را جګ کړ، لاړ د سیند تر غاړې د لویې ونې سیوري ته یې ښه ډډه ولګوله او له خپلې ملا نه یې غوټه خلاصه کړه، مخې ته یې کېښوده او یوه ډوډۍ یې، چې مور یې سهار په تبۍ ورته پخه کړې وه، له پیاز سره یو ځای راووېسته، پیاز یې په سوک مات کړ او له ډوډۍ سره یې داسې په خوند وخوړ، تا به ویل چې د نړۍ تر ټولو خواږه او خوندورخواړه یې مخې ته پراته دي او له خدای نه یې شکرونه ادا کړل، بیا یې نو ونې ته ښه ډډه ولګوله او خپله شپېلۍ یې را واخیسته، د خپلې خولې شونډو ته یې برابره کړه، چې د شپېلۍ په دې ښکلي غږ یې، د دښتې موجوداتو ته، نوې ساه ورکړله.

شپېلۍ هم کله د فتح خان او رابیا د مینې کیسې غږولې، کله به یې د مامونۍ پر مرګ د ویر نغمې غږولې، د هغې مظلومې مامونۍ له درد او سوز نه ډکه چیغه به یې پورته کړه، چې د شېرعلم د چاقوګانو له ګذار نه یې غږ تر آسمانه رسېدلی و، شېرعلم که له یوې خوا یې د پښتنو د رسم له مخې په مامونۍ خپلو مېلمنو ته تمباکو جوړول او د حجرې مجلس یې جوړاوه، له بلې خوا د تربور دا خبره یې هم ونه شوه زغملی، چې مېرمن دې له مېلمنو سره پسېدلې، نو هغه یې د ناوېتوب له جوړې او په نکریزو سرو لاسونو سره په وینو ولمبوله او د ګور مېلمنه یې کړه.

یا به یې د آدم خان د رباب په پردو کې د ده د غمجنو شعرونو افسانې بیانولې او کله به یې د شهۍ د مات زړه هغه سوی غږ پورته کړ، چې د دلې د ژغورلو هره هڅه یې د اکبر پادشاه له بند او ظلمونو نه له ناهیلۍ سره مخ شوې وه او په بېوسو او ناچارو اوښکو یې د هغه د مرګ بدرګه کوله او بیا به د شپېلۍ غږ هم د شیرینو د هغې غمجنې او له ویره ډکې سلګۍ په شان ورو - ورو په چوپېدو و، چې مومن خان یې په سرو وینو کې ولید او د غم ناره یې پورته کړه.

دې شپېلۍ د هرې ورځې په څېر نن هم ډېرې د مینې مرکې وکړې او د ډېرو غمجنو زړونو سوې څړیکې او خبرې یې بیان کړې. اوس نو لمر هم ورو- ورو د غرونو تر شا ځان پټوي، ترڅو سبا له نویو هیلو او کیسو سره بېرته د دې ځمکې مېلمه شي.

ژانرونه، لکه ناول، لنډه کیسه، ډرامه، آزاد شعر، سپین شعر، هایکو، ادبي ټوټه... رامنځ ته شوي دي. مطلب دا چې، د پښتو معاصره یا اوسنۍ دوره د تېرو دورو په پرتله جلاوالی لري او یوه ځانګړې ادبي دوره یې بللی شو، ځکه هم د بڼې او هم د منځپانګې له مخې، له پخواني ادب سره ځرګند توپیرونه لري.

دا چې دغه دوره له بېلابېلو ځانګړنو او ښېګڼو څخه برخمنه ده، نو دافغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز او د پښتو څېړنو نړیوال مرکز په ګډه، په دې وروستیو کې "د افغانستان د معاصرو ادبیاتو وضعیت" تر سرلیک لاندې علمي – څېړنیز سیمینار جوړ کړ. د دغه ډول سیمینارونو ترسره کول، د پوهې او فرهنګ په غوړاوي او بډاینه کې یو ښه ګام بلل کېږي. په دې سیمینار کې د پوهانو او څېړونکو له لوري د معاصرو ادبیاتو اړوند علمي او ارزښتمنې مقالې وړاندې شوې او د معاصرو ادبیاتو ځینې تیاره اړخونه په کې روښانه شول.

دا چې د دې سیمینار په پرېکړه لیک کې یادونه شوې وه، چې په راتلونکي کې به د معاصرو ادبیاتو د لا ډېرې څېړنې له پاره یو پراخ سیمه ییز سیمینار د علومو اکاډمۍ له لوري جوړ او هم به د همدې دورې د بېلابېلو مسایلو په اړه څېړنې ترسره شي، چې دا په خپله یو په زړه پورې ګام دی. هیله ده په دې برخه کې عملي ګام پورته شي او په کې پر معاصرو ادبیاتو هر اړخیزه څېړنه وشي؛ په بېلابېلو پړاوونو یې علمي بحث وشي، د پښتو ادبیاتو د ایجاد او ودې اړوند اساسي او فرعي حوزې معرفي او د کارونو جاج یې واخیستل شي، د دې دورې د هر پړاو د شعر او نثر ځانګړنې، نوښتګرې او نامتو څېرې او استازي معرفي شي؛ په ځانګړي ډول هغه شاعران، چې په شعرونو کې یې نوښت کړی او یا هغه کیسه لیکوال، ډرامه لیکونکي، طنزلیکوال، کره کتونکي، فولکلوریستان، د ادبي آثارو ژباړونکي او څېړونکي یې وپېژندل شي، چې د بېلابېلو نثري ژانرونو د لیکلو سرلارې او ویاړ یې ور په برخه شوی دی.

په همدې هیله

## آه! صابر!...

صابر سره مشغول شوم، د ده ښکلی حمد مې هم ولوست، چې په کې ویلي یې دي:

د هـــر کـــس دی، د هـــر چـــا دی
وړومبـــی تـــوری د دعـــا دی
هېڅــوک نـــه لـــرم زمـــا دی

او د ده نور نظمونه، غزلې او آزاد نظمونه هم.

باور وکړئ، بیا مې هم پر ذهن ناست پاتې وا او کله چې د زیارت (پنجشنبه) په ورځ سهار د وخته اسلام آباد ته روان وم، په همدې کې مې فکر کاوه، چې زه به "د صابر د شاعرۍ صداقت او انفرادیت" تر عنوان لاندې د ده پر شاعرۍ او فن یوه مقاله لیکم. له همداسې یوه چورت سره په نوې اډه کې په موټر کې کښېناستم، اخبارفروش راغی، ما د وحدت پوښتنه ترې وکړه، ویل: شته! وحدت مې واخیست، په موټر کې کښېناستم او اخبار مې پرانست، له پرانستو سره مې د اخبار پر دې سرخۍ سترګې ومونښتې: "ایوب صابر په حق ورسېد!"

باور نه کېدونکې خبره وه. صابر او مرګ؟ داسې خوږ او مهربان انسان او مړینه؟ هک پک پاتې شوم، خو چې اخبار مې ولوست، نو هغه مړ شوی هم و او جنازه یې هم خاورو ته سپارل شوې وه او زه هغه وخت پوه شوم، چې صابر مې دا پوره یوه هفته ولې په ذهن کې ناست و؟ او څه علت و چې له خپلو ټولو غمونو او پرېشانیو سره، د دې خوږ او مهربان انسان او خوږ ژبي شاعر له یاد سره لوبېدلم؟

هو! صابر ولاړ! رښتیا هم ولاړ او هر انسان به ځي، ځکه چې "کل نفس ذایقة الموت" دی، خو د صابر تر شا د ده داسې لیکونه پاتې شول او د ده داسې شاعري پاتې شوه، چې دی په تل ژوندی ساتي، دی به تل یاد ساتي او دی به تل له موږ سره او له راتلونکو نسلونو سره مل ساتي. د ده شاعري نه تکلف لري، نه موشګافۍ او نازکخیالۍ، نه د صنایعو او بدایعو په زېور کې ورکه ده، بلکې عادي شاعري ده، ساده شاعري ده، خو ډېره خوږه، دا ځکه چې د ده صداقت په کې نغښتی دی او د ده انفرادیت په کې ښکاري او همدې صداقت او انفرادیت د ده شاعرۍ ته یو خاص خوند ورکړی دی؛ دی له هرې موضوع سره انصاف کوي او په هره موضوع کې خپل خاص برداشت برېښوي. په یوه منقبت کې په خپله ګناه څومره ښکلی اعتراف کوي، خو خپل خلوص او مینه په څومره صداقت څرګندوي:

عاصي یم، ګنهګار یم خو چې ذکر د حسین وي
کافر به یم صابره که خندا ته مې زړه کېږي

صابر په نظم کې لوی لاس لري، خصوصاً په آزاد نظم کې او په دې نظم کې په دومره مهارت مطالب ځایوي، چې د غزلې باریکۍ ته یې هم رسولی شي او د قصیدې د تشبیب، ګرېز او بیان تسلسل هم په کې وینو، ده د مولانا عبدالقادر یوه مرثیه په آزاد نظم داسې ویلې ده:

یو سړی و
نه خطا شوم
اداره وه
انجمن و
د پښتو جنډه یې هسکه ګرځوله
په پښتو او پښتنو باندې مین و
***
یو استاد و
نه خطا شوم
پوهنځای و
پوهنتون و
د یو قام "د فکریون" و
***
بس یو کس و
نه خطا شوم
یو کس نه و
د پښتو اکیډمۍ وه
دبستان و
په خپل ځای کې یو جهان و
***
یو خادم و
نه خطا شوم
خادم نه و
یو مخدوم و
او هر چا ته ښه معلوم و
***
یو عالم و
نه خطا شوم
عالِم نه و، یو عالم و
سترګور و
محترم و
***
یو آواز و
نه خطا شوم
یو آواز نه و
یو شور و
د پښتو د کومې زور و
د صابر د سترګو تور و
***
یو ساعت و
یوه ګړۍ وه
نه خطا شوم
ساعت نه و
ګړۍ نه وه
یو لوی عهد و چې تېر شو
بیداري وه او ژوندون و
چې مرګی ترې راچاپېر شو
***
یوه چیغه
یو اذان و
چیغه ډوبه شوه ای قامه
اذان ښخ شو
د پښتو له مینې ګرم وجود یخ شو
***
یو آیین و
یو دستور و
آیین ړنګ شو
دستور مات شو
یه! پښتو کور دې میرات شو!

دا دومره اغېزمنه مرثیه ده، چې په سلهاوو قصیدې ترې زار شه!

زه چې اوس د صابر صاحب ناڅاپي مړینې دردولی یم، د ده غوندې توان نه لرم، چې داسې خوږه مرثیه یې په یاد کې ووایم، نو زه همدا مرثیه چې ده د مولانا عبدالقادر په یاد کې ویلې، د ده په حال هم صادقه او له حال سره سمه بولم، له لوی خدای نه ورته اجرونه او جنتونه غواړم او ادبي دوستان او شاګردانو ته یې تسلي او د زړه ډاډ ورکوم!:

ادبـــي یـــاران دې ســـتا پـــه رحلـــت ژاړي
رومـــان ژاړي، عـــدنان ژاړي، رحمـــت ژاړي
رفیـــع هـــم هېـــروی نـــه شـــي د تـــا مینـــه
پـــه هجـــرت کـــې هـــم د تـــا پـــه هجـــرت ژاړي

هو! دا د ارواښاد ایوب صابر په ناڅاپي مړینه، زما د غمجمن زړه تأثرات وو او اوس، چې پر هغه وخت اته کاله اوښتي دي، بیا هم د ارواښاد ایوب صابر یاد تازه دی او بېلتون یې دردوونکی!

اروا یې دې ښاده وي

## د ادبپوهنې تاریخ...

"د ادبي مطالعاتو لـه پـاره هغـه منظمـه او منسجمه لاره (روش) ده، چې پـر يـوې نظريـې ولاړه وي او د هماغـه نظريـې پـر بنسټ د ادبـي متونو مطالعه او څېړنه کوي."(۵)

پـه (ادب پوهنـه) کـې يـې دا لانـدې پېژنـدنې راغلې دي:

"ادبي تيوري هغه پوهنه ده، چې د ادبي آثـارو د ټـولنيز ماهيـت، ځـانګړنې او د ادب د ودې او انکشاف قوانين تر مطالعې لاندې نيسي."

"ادبـی تيـوري د ادبپـوهنې سـتره او اساسـي څانګه ده، چې د ادب ټـولنيز ارزښتونه، د ادب د پراختيـا ټـاکلي پړاوونـه، د ودې او انکشـاف تـاريخي عنعنـه، د ادبي آثـارو اساسـي فـورم او نورې ځانګړنې تر څېړنې لاندې نيسي او د ادبي مـوادو د څېړنـې لـه پـاره عمـومي لارې او اصـول ټاکي."

پـه لنډه وينا ويلای شو چې:

"ادبـي تيـوري د ادب د بـېلا بېلـو برخـو او مسايلو په هکله د نظرياتو مجموعه ده."(٦)

د ادبـي تيـورۍ پـه اړه، دې پورتـه بېلابېلـو پېژندنو تـه پـه کتنـې ويلـی شـو، چې پـه عامـه توګه په ادبي تيوري کې د ټولنپوهنې د علمي قوانينو له مخې د ادب او ټولنې ترمنځ د اړيکو، د ادبيـاتو د پيدايښـت د عواملـو، د ادبـي مکتبونو، مېتودونو او سبکونو، په ادبياتو کې د شکل او مضمون.... او د بېلا بېلو ادبي انواعو او ژانرونو په هکله بحث او څېړنه کېږي.

اخځليکونه:

(۱) هاشمي، سيد محی الدين (سرمحقق)، د ادبپـوهنې څـانګې، مـيهن خپرندويـه ټولنـه، ۱۳۹۳ لمريز کال، ۱٦۵ - ۱٦٦ مخونه.

(۲) حبيب، اسدالله (ډاکټر)، ادب شناسی و بعضـی مسـايل مبـرم آن (مقالـه)، لکچرهـای آموزشـی (د مقـالو ټولګـه)، کابـل پوهنتـون، ۱۳٦۴ لمريز کال، ۱۷ - ۱۹ مخونه.

(۳) لکچرهای آموزشی، ۳مخ.

(۴) شـينواری، دوسـت (سـرمحقق)، د ادب تيـوری اساسـونه، د چـاپ او خپرونـو دولتـي کمېټه، کابل، ۱۳٦۵ لمريز کال، ۴مخ.

(۵) فرهنگنامـه ادبی فارسی (د حسـن انوشـه په زيار)، دويم ټوک، وزارت ارشاد و فرهنـگ ايران، تهران، ۱۳۷۱ لمريز کال، ۱۳۷۲ مخ.

(٦) هاشمي، سيد محی الـدين (محقـق)، ادبپوهنـه، د اريـک ګرځنـده کتـابتونو اداره، پېښور، ۱۳۸۱ لمريز کال، ۸مخ.

## د ښېرنوال حضرت...

خپـل کـړي وو. ده د هېـچا عـيب تـه ګوتـه نـه نيوه، رښتيا به يې ويل، يو صـادق او رښتينی انسان و...

دی پـه دوسـتۍ کـې ډېـر ټينـګ او کلـک دوست و، له هرچا سره يې د دوستۍ تار کلک او مرغلين و، په ده ډېر دوستان او خپلوان راټول وو، د هغو به يې په روڼ تندي خدمت کاوه. دی ډېر حليم او قانع سړی و، د هرچا پـه خبره او وينا يې قناعت کاوه. نوموړی ځکه ښه پښتون، ښه افغـان او ښـه سړی و، چې ټولـو تـه بـه يـې ګټـه رسېده او ټولو به يې ځکه احترام کاوه، چې تر خپلـو لاس لانـدې شـاګردانو سره يـې پـه ډېـر مرحمت راشه درشه کوله، د هغو علمي او ادبي ستونزې به يې په سړه سينه ورته روښولې او پوره مرسته به يې ورسره کوله...

لنډه دا چې، ارواښـاد حضرت محمـد ويـاړ، زمـوږ د فرهنـګ د غـوړېدو، د پښـتو فولکلوري او شفاهي پوهنې او څېړنې پـه لار کـې روښانه او رڼـا ډېـوه وه، د ده د ولسـي پـوهې چينـه ډېـره پـه ښېرنيز رنګ کې خوټېدلې وه، وخت په وخت يې کابل مجلې، زيري جريـدې او نورو خپرونو کـې مقالې خپرې شوې دي، د ده قلم زموږ د پښـتنې فولکلور په ځلېدو کې د رڼا شمعه وه، چې ډېر فولکلوري موضوعات يـې لـه تيـارې او تـورتم څخه وساتل، ده د کابو پنځه ډېرشو کلونو علمي او فرهنګـي کـار پـه اوږده بهيـر کـې، خپـل ادبـي ځواک او فرهنګي پوهه، د پښتو ولسي پوهې او فولکلور د پرمختيا پـه لار کـې پـه زيـاتې مينې سره وقف کړه، چې د دغې فرهنګي شتمنۍ لـه املـه، چې پـه ميراث تـرې راپـاتې ده، نوم بـه يـې تل پرې ژوندی او جاوېدان وي، د ستر خوشحال خان خټک بابا په قول، چې وايي:

**مېړنـــــي دي چـــــې يـــــادېږي**

**پـــه ســـندرو هـــم پـــه ويـــر**

الله جل جلاله دې يې وبښي، جنت يې ځای شه.

## د حمزه بابا په شاعرۍ...

انسان په زړه کې، د محبت تخمونه پرې کرلی شي. حمزه بابا په خپله خوله اعتراف کوي، چې زمـا د غـزل مـوزون والـی، د پښـتنو سـترګو د ښکلا له برکته دی. څه ښه وايي:

**څـو د پښـتنو سـترګو د ميـو مخمـور نـه وي**

**هـېڅ د غـزل شعر مـې مـوزون نـه شـي کېـدی**

سـپېڅلې مينـې سـوداګري يـې کـړې ده. دغـه شاعر په خپله هم وايي:

**کـــه مـــې څـــومره تجـــارت وکـــړ د مينـــې**

**هـــېڅ پـــرې زيـاتـــه کمـــه نـــه شـــوه زمـــا پنګـــه**

ان حمزه بابـا، د مينـې پـه سوداګري کـې، د خپلو سترګو بدلولو تـه هم حاضر او چمتو دی، نو ځکه له خپلې معشوقې سره، د خپلو سترګو د بدلولو داسې غوښتنه کوي:

**ســـترګې کـــړه مـــا ســـره بـــدلې آشـــنا**

**مـا کـــوز ورتـــه لېمـــه کـــړه زمـــا ســـر نـــه ټيټېـــده**

په هر حالت کې له پښتنو سترګو نه خوند اخلي او په دې برخه کې، د مينې شرط داسې ږدي:

**پلـو دې د مخ اخـلـم پښـتنې خـو دا مـې واوره**

**زمرې غوندې به ګورې شرمېدل به په کې نه وي**

خو له دې ټولـو سره سره، د ده پښـتون غـرور دومره لوړ او اوچت دی، چې ان پـه مينـه کـې هم افغان پاتې شوی او خپله پښتنه حيا يـې داسـې ساتلې ده:

## ادبي او فرهنګي...

### د ډاکټر پالوال په وياړه علمي غونډه او د مورنۍ ژبې د ودې په اړه سيمينار جوړ شو

د ليکوال، څېړونکي او ژبپوه ډاکټر عبدالرازق پالوال په وياړ علمي غونډه او د مورنۍ ژبې د ودې او پرمختـګ د لاروچارو پـه اړه يـو ورځنـی څېړنيـز سيمينار پـه کندهار کـې د پاچا خان څېړنيز مرکز له خوا د غبرګولي په ۲۵مه جوړ شول. په يادو دواړو ناستو کې د هېواد لـه بېلابېلو ولايتونو پـه لسګونو پوهانو، څېړونکو او فرهنګيانو برخه اخيستې وه. پـه لومړۍ غونډه کـې د ډاکټر پالوال پر ژوند، فن او شخصيت ليکل شوې مقالې ولوستل شوې. دغه راز په خپله پالوال د ناروغۍ له امله لنډې خبرې وکړې او مننه يې وکړه، چې د هغه د کارونو قدرداني کېږي.

همدارنګه په يـاده شوې نېټه د مورنۍ ژبې د ودې او پرمختـګ د لاروچارو پـه اړه څېړنيز سيمينار هم ترسره شو، چې پـه کـې د پښتو ژبې د ودې او پـه دې لار کـې د خنډونو پـه اړه لس بېلابېل کاري ګروپونه جوړ شول او د خپلو کارونو پايلې يې د پريزينټېشنونو په توګه وړاندې کړې. ټاکل شوو کاري ډلو پر بېلابېلو موضوعاتو، لکه د پښتو لهجې، سرشمېرنې، د پښتو ژبې اوسني حالت، په تجارتي راکړه ورکړه کې د پښتو ژبې ونډه او ورته نورو علمي موضوعاتو باندې کار وکړ او خپل پريزينټېشنونه يې وړاندې کړل. په دې غونډه کې له دولت او اړوندو نورو ادارو څخه غوښتنه وشوه، چې د زده کړې په مرکزونو، په دولتي دوايرو، بهرنيو چارو وزارت، تجارتي راکړه ورکړه او د ژوند په نورو برخو کې د مورنۍ ژبې د عاملو او کارولو له پاره دې کار وکړي.

### "اجمل خټک او پښتو حماسي شاعري" علمي- څېړنيزه پروژه دفاع شوه

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د پښـتو ژبې او ادبيـاتو د انسـټيټوټ غړې آغلې څېړنياري شکيلا مياخېلې د څېړندويۍ علمي رتبې ته د لوړاوي له پاره له خپلې علمي پروژې، چې "اجمل خټک او پښتو حماسي شاعري" تـر سرليک لانـدې وه، د ۱۳۹۴ لمريـز کـال د چنګاښ د مياشتې په ۱۵مـه، پـه برياليتوب دفاع وکړه. پـه دې غونډه کې د علومو اکاډمۍ ځينو علمي غړو ګډون کړی وو.

### پروفيسور ډاکټر راج ولي شاه خټک وفات شو

د پښتو ژبې پياوړی ليکوال، څېړونکی او شاعر ډاکټر راج ولي شاه خټک د روان ۱۳۹۴ کال د چنګاښ په ۲۹مه، له دې نړۍ سترګې پټې کړې. ده د خيبر پښتونخوا ايالت له سوات سيمې څخه پېښور ته پر لارو، چې پر لاره د زړه حملـه پـرې راغلې او ساه يې ورکړې ده. هغه کلونه کلونه د پښتونخوا پېښور پوهنتون د پښتو ژبې او ادبياتو د څانګې د استاد، د پېښور پښتو اکاډمي د رئيس او په پېښور پوهنتون کې د ختيځو ژبو مرکز د مشر پـه توګه دندې تر سره کړې. هغه پښتو ژبې او ادب ته مغتنم علمي ـ څېړنيز آثار ډالۍ کړي او په لسګونو علمي ـ څېړنيزې مقالې يې خپرې شوې دي. نوموړی پـه ۱۹۵۲ز کـال د خيبرپښـتونخوا د نوښار ولسوالۍ د چراټ سيمې په ډاک اسماعيل خېلو نومي کلي کې زېږېدلی و او همـلتـه خاورو ته وسپارل شو.

### د"پوهنځي" په نوم مياشتنۍ جريده له چاپه راووته

د "پوهنځي" پـه نوم فرهنګي، علمي او روزنيزه مياشتنۍ جريده د پکتيا پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له خوا خپره شوه. په دې جريدې کې چې مسوول مدير يې پوهيالی خالد احمد حبيب دی، يواځې د هېواد د پوهنتونونو د استادانو او محصلينو ليکنې خپرېږي.

### د"سوله مل شينواري" د لنډو کيسو ارزونه وشوه

پـه لندن کې بريتانيا مېشتو ليکوالو د آفغان ليکوال عبدالوکيل سوله مل شينواري د لنډو کيسو ارزونه وکړه. په دې وروستيو کې د هغه "۵۰ ميليونه" نومی کتاب چاپ شوی، چې پـه انګليسي، دري، هندي، سلواکي او اردو هم ژباړل شوی دی. د کتاب ډېرې کيسې د آفغان مېرمنو ژوند، جګړې، رواجونو او تاريخ انځوروي. (ازادي راډيو)

کله ناکله حمزه بابا خیال کوي، چې د ده د سترګو خوی د زړه له خوی نه مختلف دی او بېخي یې دوه جلا جلا انځورونه وړاندې کوي:

**خوی د ستا د سترګو ستا د زړه نه جلا ښکاري**
**بل یو زړه دې هم شته د دې زړه نه مختلف**

ځرنګه چې حمزه بابا ځانته غزلیز سبک لري او د ده غزل له پښتني عناصرو نه ډک دی، د ده د غزل په نغمو کې، د زړه سوز او ګداز او په هر تار کې د شاعر د زړه آواز اورېدی شئ. حمزه بابا که د مینې او عشق په لېوني بازار کې ژړلي، نو هغه زیاتره د پښتنو سترګو له لاسه دي:

**ستا د تورو خمارو سترګو په غم کې**
**ټوله شپه مې لکه پرخه ژړا وکړه**

کله چې موږ او تاسې د حمزه بابا په غزل کې د سترګو مقام ګورو، نو باید موږ هغه د یوه داسې عاشق په توګه ووینو، چې د

**چې هغه وګوري چې زه ګورمه**

پوښتنه دا ده چې حمزه د مینې په بازار کې له سترګو ولې پیل کوي. دغې اساسي پوښتنې ته، په خپله همدغه شاعر داسې ځوب ورکوي:

**د تږیو سترګو نه مې ډار مه کوه**
**د تا په سترګو کې او به ګورمه**

د پښتنو سترګو د ښکلا راز، په دغه بیت کې بیان شوی او هغه دا چې، هغه ډېرې حیاناکې دي او دغه حیاناک حالت یې، له عادي سترګو نه ښکلا څو چنده زیاته کړې ده.

که تاسې د هر شاعر شاعري وګورئ، نو هغه د مینې سوداګر معلومېږي او حمزه بابا هم د سترګو په برخه کې، له خپلې محبوبې سره د سترګو د بدلون په برخه کې، سر په سر سودا ته تیار دی، مګر موږ فکر کوو، چې شاعر په دغه سودا کې باقي دار معلومېږي، نو ځکه وایي:

**ته خو په کسیو کې نظر یې زما**
**زه دې په کسیو کې نظر نه شومه**

داسې معلومېږي چې د حمزه بابا سترګې، شاید چې په الفت کې هم افغان پاتې کېدم

داسې معلومېږي چې حمزه بابا د پښتو غزل له پښتني روایاتو نه داسې ډک کړی، لکه انار چې له دانو نه ډک وي، نو ځکه د سترګو د ښېو د خبرو په باب هم، خپل شاعرانه برداشت دا ډول وړاندې کوي:

**ستا د ښېو خبرې نېغې وي تل**
**داسې وي تل د پښتنو خبرې**

او یا په خواږه غزل کې، د پښتنو سترګو د جرګې تصویر څومره ښایسته وړاندې کوي:

**نن په ټیټو سترګو ارمانونو مې**
**ستا په پښتنو سترګو جرګه وکړه**

لنډه دا چې د حمزه بابا غزل له وړو وړو خوندونو، ښکلاوو او پندونو نه ډک دی او په دغه لړ کې، د ده په لوړه او اوچته شاعري کې، د پښتنو سترګو مقام هم ډېر مهم دی. که موږ د ده د شعر په فصلونو کې شاوخوا نظر واچوو، نو د تصوف او حقیقي مینې په څنګ کې، د مجازي مینې فصل زرغون او له شنو خاطرو نه ډک دی.

اصلي خبره دا ده، چې سترګې د انساني جذباتو د بیان په وخت کې، د خولې په پرتله صادقې او رښتینې دي او ډېر ځله هغه څه چې زړه یې پټوي، سترګې د هغو رښتینی بیان هم کوي، نو ځکه زموږ دغه غزلبول شاعر، یو بل ځای څه ښه وایي:

**وکړه تپوس یې د حمزه له سترګو**
**هغه خبرې چې په خوله پاتې دي**

ښایي یو شمېر کسانو ته به د حمزه بابا په شعر کې، د سترګو د مقام ځای ځایګی عجیب او غریب معلوم شي، مګر زموږ دغه شاعر، په ډاګه دا وایي چې:

**زه په هغه پښتني حُسن مېئن یم**
**چې هوسۍ وي خو کاته یې د زمري وي**

ما یوه ورځ له یوه ویجټېرین (سبزیخور) نه وپوښتل، چې د تا ولې د حلالو څارویو او مرغانو له غوښې نه پرهېز دی؟!

هغه په ځواب کې راته وویل، چې مېوه جات او سبزي جات سترګې نه لري او مرغان او څاروي سترګې لري، نو ځکه هغه خورم او دا نور پرېږدم!

راځئ، د حُسن اختتام په پیرایه، د حمزه بابا د شعر دغه بیت، په زیاتېدونکې مینې سره واورو:

**وروځې لېمه سترګې بانه پښتانه**
**څنګه یو ځای شول پښتانه پښتانه**

# دعا

## څېړنواله ظاهره هنګامه

دغه ماښام راته سبا کړه خدایه
دغه دنیا راته رڼا کړه خدایه
زه مبتلا شوم په دردونو مدام
له دې دردونو مې رها کړه خدایه
د دنیا ډېر ظلم پر موږ شوی دی
دوی په خپل قهر مبتلا کړه خدایه
څوک چې ستم او ډېر ظلمونه کوي
په دې دنیا کې دوی رسوا کړه خدایه
له ژونده سترې او ستومانه یمه
ستړیا مې ورکه ماسیوا کړه خدایه
دنیا تیاره ده لاره ورکه له ما
ماته دژوند لاره پیدا کړه خدایه
زه "هنګامه" یم ستا په در کې ژاړم
ته مې قبوله دا دعا کړه خدایه

# پښتو نثر...

تعریف ټولو نثرونو ته ومنو؛ ځکه نثر پر هنري برخې سربېره علمي، معلوماتي، تاریخي او داسې نور ډولونه هم لري، چې په هغو کې د هنر تومنه وراچول ښایي د مستو تومنه هم خرابه کړي، چې نه به یې نوم وي او نه به یې خوند.

که خبره را لنډه کړو: نثر هغه وینا یا لیکنه ده، چې هنري ارزښت یې کوم قید و شرط نه لري؛ خو د وزن له قیده به هرومرو آزاده وي.

په دې تعریف کې موږ د هنري نثر له پاره د هنر کلمه ورسره زیاتوو، خو د بې هنره نثر له پاره، چې ډېر ځله د نورو علومو له پاره کارېږي، د هنر له قیده تېرېږو او خپل ټاکلی تعریف تکرارو او په دې توګه ځان له مسوولیته خلاصوو.

نو د نثر دا پېژند یو وړاندیز شوی پېژند دی، ښایي خپلې نیمګړتیاوې ولري، خو زما په اند، تر هغه بل پېژند به غوره وي، چې بشپړول به یې د نورو لیکوالو را باندې احسان وي.

که د نثر له پېژنده را تېر شو، نو د ډولونو په اړه یې هم د لیکوالو او پوهانو ترمنځ اختلاف دی، ځینې وایي، نثر په درې ډوله دی او ځینې وایي، په شپږ ډوله، چې ډولونه یې دا دي:

۱ - مسجع نثر "قافیه وال نثر": هغه نثر دی، چې د جملو په اخر کې په کې قافیه هم راغلې وي او په درې ډوله دی:

الف) مسجع متوازي.

ب) مسجع مطرف.

د) مسجع متوازن.

۲ - مرسل نثر "ازاد، ساده یا عاري نثر".

۳ - مرجز نثر "وزن او قافیه لرونکی".

۴ - مقفی نثر.

۵ - مرصع نثر.

۶ - مصنوع یا فني نثر (۳).

خو څېړنوال سید محی الدین هاشمي په خپل کتاب "د نثري ادب ډولونه" کې بیا نثر په درېیو سترو برخو وېشي او وایي:

۱ - ساده یا مرسل نثر: چې لفظي او معنوي ښکلاوې په کې نه وي.

۲ - فني نثر: چې د لیکوال عواطف او احساسات هم ورسره ګډ وي.

۳ - ساده ولسي نثر: چې کټ مټ د خلکو ژبه انځوروي (۴).

پر پورته ډولونو سربېره، ځینې پوهان د نثرونو نورو ډولونو ته هم قایل دي، لکه تاریخي، پوهنیز، څېړنیز، دیني، ساده او روان، متکلف، حماسي، غنایي، اسطوروي، عرفاني، اخلاقي، فلسفي، سوفسطایي او... په داسې حال کې، چې دا ټول په نثري آثارو کې راځي، نه په نثر کې او که چېرې د نثر برخه یې هم وبولو، بیا هم له هماغه لومړیو شپږو ډولونو او یا وروستیو درېیو ډولونو څخه خروبېږي، چې له بده مرغه تر اوسه پورې دغه مسئله لاانجمنه پاتې ده.

په هر حال، زموږ څېړنه د نثر د دومره دقیقې ځیرنې حوصله نه لري او یواځې د نثر شکلیاتي ډلبندۍ ته نغوته کوي، چې هغه ساده نثرونه او هنري یا ادبي نثرونه دي، په دې برخه کې هم پر هنري یا ادبي نثرونو باندې بسنه کوو او پاتې ډولونه یې راتلونکې ته پرېږدو، چې د وخت په پام کې نیولو سره به پرې کار وکړو؛ ځکه که چېرې موږ د پښتو ژبې ساده نثرونو ته هم تم شو، نو بیا اړیو، چې له سالو وړمې، تذکرة الاولیاء، پټې خزانې او یا تر دې را وروسته ټولو نثرونو باندې لومړۍ رڼا واچوو او بیا یې له اوسني پېر سره ارزښتونه په ګوته کړو، چې دا کار د داسې لیکنو له چوکاټه او حوصلې وتلی کار دی، ځکه په دې کار باندې هم پخوا او هم اوس کافي کار درنو مشرانو کړی او نیمګړتیاوې په ګوته کول یې، زما په څېر کوچنی او په دې لار کې مبتدي لیکوال ته ډېر ګران کار دی؛ نو ځکه ترې صرف نظر کوم.

اخځلیکونه:

(۱) د نثري ادب ډولونه: ۳۰ مخ.

(۲) اجمل ښکلی، نثر نوی تعریف غواړي، افغان ادبي بهیر انټرنټي پاڼه، کابل، ۱۳۸۶ لمریز کال.
http://www.baheer.com

(۳) ډیوه همت لور: پښتو نثر پېژندنه، افغان بنسټ انټرنټي پاڼه، ۱۳۹۳ لمریز کال.
http://afghanfoundation.net/?p=5536

(۴) د نثري ادب ډولونه: ۳۰ مخ.

چهارشنبه ▣ ۵ – ۸ مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۲۹ - ۲۳۲ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د چنګاښ (سرطان) ۳۱ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د شوال المکرم ۵ مه ▣ ۲۰۱۵ زېږدیز کال د جولای ۲۲ مه ▣ ۴ مخ


# زېرى

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر ځارنې لاندې

مسوول مدیر: څېړندوی محمد اصف احمدزی

مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري

کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی



zerai1316@gmail.com

facebook.com/Zeerai1316

۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱



د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان

د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ

پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار، کابل – افغانستان

په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.


## آه! صابر!

# "دا چپې چې وي، نو زه یې وړی یم!"

▣ استاد حبیب الله رفیع

زه د ارواښاد ایوب صابر له فن سره، هغه وخت چې په ۱۳۵۸ کال پېښور ته راغلم او د ده "ځګرخون" مې لاس ته راغی، آشنا شوم او له شخصیت سره یې په ۱۳۶۲ کال کې، کله مې چې په پښتو اکېډمۍ کې ورسره ولیدل، آشنا شوم او د ده د فن او شخصیت انځور هم هغه وخت ما په یوه قطعه کې وکیښ:

ځګرخون دې د زخمي زړونو دوا ده
شاعرۍ کې دې ده نغښتې ساحري
هم ایوب یې، هم صابر کړه دې رښتیا چې:
"یوه پایه پیغمبري ده شاعري"

د ارواښاد صابر قال او حال مې چې دواړه ولیدل، په زړه کې مې کښېناست، د زړه ستنې مې په مینه او درناوي ورته کږې وې، ځکه د ده تخلیقات هم ښکلي وو او اخلاق هم، د ده فن هم روند و او شخصیت هم، د ده لیک هم له اخلاصه ډک و او وینا هم.

کله مې چې د ده د مړینې له غمه ډک خبر واورېد، پوهېږئ چې څه حال به را باندې راغلی وي او د غم څومره درنه څپه به را باندې تېره شوې وي؟ ما خپل تأثر هم هغه وخت قلمبند کړ او دا دی اوس یې له تاسو سره شریکوم او د ارواښاد ایوب صابر تلپاتې یاد پرې تازه کوم، زما دا تأثر د

خو د زمان څپې له خپلو ټولو ناترسیو او بې رحمیو سره – سره هغه څوک له ځانه سره نه شي وړلای، چې د جسماني ژوند ترڅنګ یې معنوي ژوند موندلی وي، دا څپې هغه کسان نه شي محوه کولای چې د زمان او مکان له قیده وتلي وي، د یوې سیمې نه وي، د ټولو سیمو وي او د یوې زمانې نه وي، د ټولو زمانو وي.

صابر له همداسې کسانو او همداسې هستیو څخه و، دی جسماً دې څپو یووړ، خو معناً ژوندی دی او د تل له پاره به ژوندی وي، ده د خپل علم او فن په وسیله دا مقام ترلاسه کړی و او داسې ژوند یې ترلاسه کړی وو چې د زمان



یې په خوند – خوند خوړل، زما د معنادارو کتلو په ځواب کې را ته موسکی شو او ویې ویل: زه پرهېز کوم، غواړم چې څه وخت نور هم ژوندی پاتې شم، څه کارونه مې تر لاس لاندې دي، چې هغه ترسره کړم!

په دې توګه، ده ژوند تش د خپل ځان د پاینښت له پاره نه غوښت، بلکې د دې له پاره یې غوښت، چې کار وکړي، ژبې ته خدمت وکړي، وطن ته خدمت وکړي، پښتون ته خدمت وکړي او انسان ته خدمت وکړي. ده څو کاله ترخه پرهېزونه په همدې نیت وکړل، چې څه وخت نور هم ژوندی پاتې شي او کار وکړای شي.

صابر په حقیقي معنا شاعر و، ژوندی او د ژوند شاعر و، باضمیره او ویښ زړی شاعر و، ده نرم زړه درلود، انساني زړه یې درلود او له مینې ډک زړه یې درلود، له تېري او تجاوز سره یې ورانه وه، له ظلم او ظالم سره یې نه لګېده او د ناوړه او ناروا مصلحتونو تابع نه و؛ ده به چې بد او ظلم په هره بڼه کې لیدل، غندل به یې او مظلوم به چې هرځای و، د ده به ژړا ورسره مله وه؛ یوه ورځ په ټل کې د ارواښاد محمد دین مقید په یاد مشاعره وه، د مشاعرې صدر صابر صاحب و، کله چې مشاعره خلاصه شوه، صابر صاحب په

✸ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

## پښتو - فرانسوي قاموس چاپ شو

په فرانسه کې د مېشت افغان ډاکټر او لیکوال محمد اکبر وردګ له خوا د څلوېښت زرو لغتونو لرونکی پښتو - فرانسوي سیند (قاموس) په ۱۱۳۰ مخونو کې چاپ شو. یاد شوی قاموس په دې وروستیو کې د فرانسې په پلازمېنې پاریس کې د "L'ASIATHEQUE, maison des langues du monde" په نوم خپرندویې ټولنې له لوري چاپ شوی دی.

اکبر وردګ تر دې وړاندې په ۱۹۹۹ زېږدیز کال کې هم، له یوه بل افغان لیکوال محمد کبیر حبیب سره په ګډه د فرانسوي - پښتو سیند په پاریس کې خپور کړی و، چې په ۴۹۶ مخونو کې یې شاوخوا ۱۳ زره لغتونه خوندي شوي دي.

## د "هلمند سیند" او "سلیمان غر" کلنۍ مشاعرې جوړې شوې

د هلمند په مرکز لښکرګاه کې د "هلمند سیند" دودیزه کلنۍ مشاعره د غبرګولي په لومړۍ نېټه ترسره شوه. په دې مشاعره کې د همدې ولایت لسګونو شاعرانو او لیکوالانو برخه اخیستې وه، ، چې په لومړۍ برخه کې یې یو شمېر کسانو ویناوې وکړې او وروسته شاعرانو خپل شعرونه ولوستل.

دغه راز په پکتیکا کې د سلګونو شاعرانو، لیکوالانو او د شعر او ادب د مینه والو په ګډون د "سلیمان غر" کلنۍ مشاعره او د غزل شپه د غبرګولي په اوومه جوړه شوه. یاده مشاعره، چې د پکتیکا په مرکز شرنې ښار کې ترسره شوه، په پیل کې یې ویناوالو خبرې وکړې او وروسته مشاعره وشوه. په دې مشاعره کې د پکتیکا د شاعرانو او لیکوالانو ترڅنګ د غزني، لوګر، لغمان، پکتیا او پلازمېنې کابل شاعرانو هم ګډون درلود.

## د استاد لال پاچا ازمون د ادبي پنځونو قدرداني وشوه

په غزني کې د "کلیوال ادبي ملګري ټولنې" د کابل پوهنتون استاد لعل پاچا ازمون په درنښت د غبرګولي په لسمه غونډه وکړه. دې غونډه کې د پکتیا او پکتیکا فرهنګیانو هم برخه اخیستې وه او د ازمون د فرهنګي فعالیتونو په اړه په کې هر اړخیز بحث وشو. د غونډې په وروستیو کې مشاعره هم ترسره شوه، چې شاعرانو په کې شعرونه وړاندې کړل. آزمون تردې دمه، کابو ۶۳ کتابونه او سفرنامې چاپ کړې او ۱۵ نور ناچاپ آثار لري.

## د مور ورځې په مناسبت ځانګړې مشاعره وشوه

۱۳۶۷ کال د سلواغې په ۲۳ مه نېټه لیکل شوی او سرلیک یې و:

آه! صابر!

"دا چپې چې وي، نو زه یې وړی یم!"

د زمانې څپې ډېرې ترخې څپې دي، توندې څپې دي، بې رحمه څپې دي، ظالمې څپې دي او دې څپو ډېرې ونې او نیالګي له ځانه سره وړي او ډېرې هستۍ او ځوانۍ یې خاورې کړې دي، دا څپې همداسې توندې روانې دي او لګیا دي هستۍ وړي، شخصیتونه وړي او داسې کسان وړي، چې یواځې د یوه تن زیان نه وي، بلکې د یوې سیمې زیان وي، د یوه ولس زیان وي، د یوې ټولنې زیان وي، د یوه ملت زیان وي او ان چې د ټول بشریت او انسانیت زیان وي.

هو! هغه هم دې ناترسو څپو له ځانه سره یووړ، له موږ نه یې بېل کړ او په نه راګرځېدونکې لاره یې له ځانه سره روان کړ. زه صابر ښیم، ایوب صابر، د پښتو شاعر صابر، د پښتو ادیب صابر، د پښتو نقاد صابر او ورسره د اردو هم. ده دا څپې نږدې لیدلې وې، د دې څپو ځوږ ورته رسېدلی و او د دې څپو نخښې او نښانې یې لیدلې، نو ځکه یې د دې څپو تر وروستنې او مرګوني ګوزار څه وخت وړاندې په یوه غزله کې ویلي و:

"ژوند یو سمندر دی له غمونو ډک
دا چپې چې وې نو زه یې وړی یم!"

څپې یې نه شي وړلی او دا عارضي مرګونه یې نه شي وژلی. دی د هر پښتون په زړه کې ژوندی دی او حتی د هر واقعي انسان په زړه کې ژوندون لري.

دا ځکه چې ده ژوند د ځان له پاره نه کاوه، د جهان له پاره یې کاوه او د انسان له پاره یې کاوه، نور ترڅو چې جهان وي او ترڅو چې انسان وي، صابر به ژوندی وي، صابر به یادوي او د صابر انساني او پښتون غږ به د پښتونخوا او دنیا په فضا کې ازانګه کوي، پسې خورېږي به او د خورېدو ساحه به یې پراخېږي.

څو کاله وړاندې، د صابر ځوان زوی ځوانیمرګ شو او له دې سره د صابر صبر هم بې صبره شو او د ده نېغه ملا یې غبرګه کړه:

"کوم لاس مې د کارو هغه پرې شولو
زه یو بدقسمته بچی مړی یم!"

او له دې سره، د ده ناروغي زیاته شوه او د رنځونو راز–راز څپو هېڅ پرې وکړې، زه همهغه وخت له کوټې نه په کواټ راغلم او د ده پوښتنې ته ورغلم، د لیدو قسمت مې شوی و، په یوه کوټه کې سره تېر او بېر نه، بلکې سره مخامخ شو، کور ته ورسره ولاړم او کله یې چې ما ته ډوډۍ راوړه، نو دی خپلې پرهېزانې (د پرهېز ډوډۍ) ته کښېناست او بې مالګې خواړه

خپل صدارتي تقریر کې په خوږه ادبي ژبه یو انساني سیاسي تقریر وکړ، ده په هغه وخت کې، چې امریکې پر لیبیا کوم تېری کړی و، هغه یې هم وغانده او په افغانستان کې یې د روسیې سره ښکېلاک نادودې هم وکړلې، ده د دنیا په هر کونج کې د انسان ربړول وغندل او له ټول مظلوم انسانیت سره یې د خپل زړه او ضمیر غږ شریک کړ.

ما د روان (۱۳۶۷) کال د سلواغې په لسمه نېټه په باګرام کې د صابر صاحب یو غزل ولوست، غالباً چې نوی به هم و، خو د ده حسب الحال و او هغه خاص صداقت او انفرادیت یې درلود، چې د ده په شاعرۍ کې اغېزل شوی او د اروا غوندې په کې پوک وهل شوی دی. له غزل نه مې دومره خوند واخیست چې بیا مې صابر په ذهن کې ناست پاتې شو، حتی په هغه شپه چې صابر صاحب وفات کېده، یو ځل بیا مې په کور کې د مېز تر شا رایاد شو او بې اختیاره مې د ده "ځګرخون" راواخیست، وامېړاوه او په دې غزل پېښ شوم:

د بارودو بوی دې ګډ کړ په هوا کې
اې انسانه ځکه ګرځې په خلا کې

او بیا مې د کتاب پاڼې واړولې را واړولې، ډېر څه مې په کې ولوستل او ډېر وخت له ایوب

دوهم مخ

# وروستۍ خدای په اماني

ځېړندوی م. ا. احمدزی

له روغتونه نوی را رخصت شوی و، مستقیماً دفتر ته راغی، غوښتل به یې د اخري ځل له پاره خپل همکاران ووینې؛ چې کله مې پرې سترګې ولګېدې، زښت زیات پرې خوښ شوم، له ټولو سره یې په ورین تندي روغبړ وکړ، کېناستو، مجلس مو وکړ؛ هسې مې په زړه کې را تېره شوه، چې راځه، نن ښه ډېر او په ځير -ځیر ورته وګوره؛ په همدې کتلو کتلو کې خوږ مجلس ختم شو، همکارانو ویل: پرې یې ږدئ، چې کور ته لاړ شي، لږ ارام وکړي... دا ورځ تېره شوه، شپه هم سبا شوه؛ هسې په دې ورځ دفتر ته په وختي تګ بیړه را سره پیدا شوه، چې کله دفتر ته ورسېدم، له استادانو سره تر سترګو مه شي وروسته، یو استاد را په غوږ شو.

-خبر یې؟

-نه، ولې؟

-ویاړ صاحب، په حق ورسېد.

-انا لله وانا الیه راجعون.

ځېړنوال حضرت محمد ویاړ په علومو اکاډمۍ کې دنده لرله، یو علمي او اکاډمیک شخصیت و، پر هېواد مین، ډېر مهربانه، زړه سوانده او متواضع انسان و. خو مرګ حق دی، نور به یې په دې دنیا کې نصیب نه و، الله تعالی دې ورته اوس هغه دنیا ګل ګلزار کړي. د ده مړینه، د فرهنګ او ادب له پاره یوه نه هېرېدونکې ضایعه بولم. اروا یې ښاده او سوکاله غواړم.

د مور نړیواله ورځ د غبرګولي په شلمه، ماښام مهال په کابل کې د "مورجانې ورځ دې بختوره!" ترسرلیک لاندې د "میډیوټیک افغانستان" او "پل فکري کړۍ" له خوا د اراکوزیا راډیو په خپرنیزه همکارۍ، ونمانځل شوه. دا هنري او کلتوري ناسته په کابل ښار کې د میډیوټیک د مرکزي دفتر په انګړ کې تر سره شوه، چې فرهنګیانو، شاعرانو او محصلینو په کې ګډون کړی و. په مشاعره کې د شاعرانو په شعرونو کې د افغانستان په روان وضعیت کې د ښځو او په ځانګړي ډول د میندو د زړه چاودون، له اولادونو د بېلتون، ځور او درد انځورونه را نغاړل شوي وو. له دې سربېره سندرغاړي مبین وصال د مور مقام ته لیکل شوي شعرونه له موسیقۍ سره یوځای وړاندې کړل. په دې ناسته کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استادې ډاکټر زرغونې زېور ته د هېواد د ټولو میندو په استازیتوب د افغانستان له ملي بیرغ جوړ پړونی ور په سر شو او ویناوالو د یوې غوره مور ترڅنګ د ادب د یوې پیاوړې استادې په توګه د هغې د کارونو درناوی او ستاینه وکړه.

## "د افغانستان د معاصرو ادبیاتو وضعیت" تر سرلیک لاندې سیمینار جوړ شو

"د افغانستان د معاصرو ادبیاتو وضعیت "ترسرلیک لاندې علمي -ځېړنیز سیمینار د علومو اکاډمۍ له لوري د غبرګولي په ۲۵ مه، ترسره شو. دا سیمینار چې لسګونو پوهانو او ځېړونکو په کې ګډون کړی وو، په کابل کې د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز او پښتو ځېړنو نړیوال مرکز له خوا جوړ شوی و. یاد شوي سیمینار دوه برخې لرلې، چې په لومړۍ برخه کې د ولسمشر له پیغام سربېره د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، کابل پوهنتون، د استاد برهان الدین رباني د ښوونې او روزنې پوهنتون پیغامونه ولوستل شول؛ په دویمه برخه کې د معاصرو ادبیاتو په اړه د لیکوالو او ځېړونکو له لوري علمي -ځېړنیزې مقالې ولوستل شوې.

د سیمینار په پای کې یو پرېکړه لیک صادر شو، چې په کې د یوه باصلاحیته کمېسیون غوښتنه شوې وه، چې د هېواد د رسمي ژبو (پښتو او دري) د املایي وحدت او د بهرنیو غیر ضروري کلمو د راتګ د مخنیوي له پاره لاس په کار شي.

په پرېکړه لیک کې زیاته شوې، چې د معاصرو ادبیاتو د لا ډېرې ځېړنې له پاره دې، یو پراخ سیمه ییز سیمینار د علومو اکاډمۍ له لوري جوړ او هم دې د همدې دورې د بېلابېلو ادبي مسایلو په اړه ځېړنې ترسره شي.

## د نجم الرحمن مواج د دوو کتابونو مخکتنه وشوه

د افغانستان قلم ټولنه کې د غبرګولي په ۲۵ مه، د نجم الرحمن مواج د دوو نویو چاپ شویو کتابونو (د خیام څلوریځې او شعر پوله نه پېژني) مخکتنه وشوه. په دغې ادبي غونډه کې، چې شاعرانو او ادیبانو په کې ګډون کړی وو، ویناوالو په کې د موضوع په اړه خبرې وکړې. په دې ناسته کې د (شعر په شعر) نوې مهالنۍ خپرونه هم د غونډې برخه والو ته وویشل شوه. په نوموړې ادبي غونډه کې د دري ادبیاتو د سترو خزانو او د پښتو ادبیاتو د لویو خزانو، یوې او بلې (پښتو او دري) ته ژباړه، د وخت مهمه اړتیا وبلل شوه. د (شعر په شعر) مهالنۍ چاپ هم د سیمې په هېوادونو کې یو بې ساری رسنیز کار وبلل شو.

## ځېړنوال حضرت محمد ویاړ په حق ورسېد

د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټیوټ د فولکلور او شفاهي ادبیاتو د څانګې امر ځېړنوال حضرت محمد ویاړ د ۱۳۹۴ المریز کال د غبرګولي په ۱۲ مه، د ۶۷ کالو په عمر د ورپېښې ناروغۍ له امله، له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

اروابښاد ویاړ په ۱۳۲۷ المریز کال د خوست په لنډي کلي کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې، لومړنۍ او ثانوي زده کړې یې په خوست کې سرته رسولې، په ۱۳۵۲ کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو له پوهنځي فارغ او په همدې کال په پښتو ټولنه کې په دنده وګومارل شو. نوموړي افغاني فرهنګ په تېره بیا پښتو ژبې او ادبیاتو ته د یاد وړ خدمتونه کړي دي.

درېیم مخ

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.